# باچاخان
# او د پښتون اولس ذمه واري

محمد اقبال اتماني

کله چې امير امان الله خان په افغانستان کښې برے وموندو نو په دې باندې د افغانستان په خلقو او ډيورنډ نه مشرقي اړخ او په قبائيلو ډېر ښه اثرات پريوتل. په هند کښې هم خلقو وليدل چې يو جابر او طاقتور فرنګي څه رنګ د ماتې سره مخ شو. په دغه وخت کښې د هندوستان د خلقو توجه په ترکي باندې وه. مګر د جنګ عظيم په نتيجه کښې خلافت هم ختم شو. خلقو اوس د خپلې توجو مرکز افغانستان جوړ کړو چې د انګريز د غلامۍ نه د خلاصېدو لپاره افغانستان ته هجرت کول پکار دي.



او خلق افغانستان طرف ته د غټو غټو قافلو او ټولګو په شکل کښې مسلسل روان وو. اکثر خلقو خپل جائيدادونه خرڅ کړل او افغانستان ته ورداخل شول. د افغانستان حکومت او عوامو د دې مهاجرينو ښه خدمت او عزت اوکړو او بله دا چې باچاخان هم په دې هجرت کښې شامل ؤ. مګر د هغوي د کور نور کسان کور کښې پاتې شوي وو.

کله چې د باچاخان ملاقات د امير امان الله خان سره وشو. امير امان الله خان او پښتنو مشرانو ډېر کوششونه وکړل چې باچاخان دې په افغانستان کښې پاتې شي مګر باچاخان اوس د يو نوي سوچ سره واپس کيدو چې د پښتون قوم ته يو نوے پېغام او يو نوے سوچ ورکړي چې دې سره به په پښتون قوم کښې يو نوې بېداري پېدا شي.

باچاخان چې کله واپس شو نو اولنے ګام ئې د تعليم په مېدان کښې پورته کړو. هغه د اتمانزو خلق راغونډ کړل او د يو تنظيم د جوړولو بنسټ ئې کېښود او نامه ئې پرې (انجمن اصلاح الافغانه کېښود. دې تنظيم د پښتنو بچو ته د تعليم ورکولو ذمه واري خپلو لاسو کښې واخسته او ورسره ئې په پښتون قوم کښې دښمني او بے اتفاقي ختمول او د ورورولۍ فضا جوړول خپل مقصد او مرام وګرځو. زر تر زره ئې په اتمانزو

کښې یو آزاد اسلامیه سکول جوړ کړو. خان عبدالولي خان وائي چې د دې سکول اولنے طالبعلم زه او زما سره زمونږ د کلي د قادر کاکا کوچوان فرزند مظفر ؤ.

د انجمن اصلاح الافاغنه تحریک اوس هر ځائې ته رسېدلے ؤ. ځائې په ځائې سکولونه جوړېدل باچاخان او د هغه ملګري به لرې پرتو علاقو ته تلل او خلقو ته به ئې دا ترغیب ورکولو چې خپل ماشومان سکولونو کښې داخل کړئ. او دا به ئې ور ته وئیل چې زمونږ د ترقۍ راز په تعلیم کښې دے او مونږ به هله د دنیا د نورو قومونو د مقابلې جوګه جوړ شو چې خپل نوي نسل ته تعلیم ورکړو.

د باچاخان دې کارنامې خلق دومره رابېدار کړل چې دې سکولونو ته به استاذان د تنخوا دپاره نه بلکې د خدمت د جذبې سره راتلل. په دې وخت کښې د پښتنو په معاشره کښې یو خاموش بدلون ور داخل شو. اوخپلې زیلۍ ئې مضبوطولې.

اوس انګریز ته پته اولګېده چې پښتون قوم په ویښېدو دے. نو هغوي د باچاخان د تنګولو لپاره رنګا رنګ چلونه اختیار کړل او اکثر به ئې د پنجاب په جیلونو کښې ساته. په جیل کښې به ئې په باچاخان مېچنې ورۀ کولې. د اغوستو دپاره به ئې یو کمبل ورکولو او د خوراک یو ناقص انتظام ؤ. د هغوي دا خیال ؤ چې باچاخان به تنګ شي او زمونږ سره به خبره وکړي. مګر باچاخان د پښتون قوم په سر هیڅ قسم دلالي او سودا ته تیار نه ؤ او هغه انګریز چې د هغه په باچائۍ کښې نمر نه پریوت خو باچاخان او د هغه ملګرو دوي د دې ملک نه رخصت کړل.

نو اے پښتنو رونړو باچاخان او د هغوي ملګرو چې کومې قربانۍ ورکړي دي هغه خو صرف د پښتون قوم د یو والي. د هغوي د سوکالۍ او د هغوي د خوشحالۍ لپاره وې. باچاخان خو د خپل قوم دپاره هر هغه څۀ کړي دي چې په دنیا کښې بل سیاسي لیډر نه دي کړي او نه به ئې اوکړي. ۳۳ کاله د جیل تېرول یو عالمي ریکارډ دے چې لا تراوسه د باچاخان نه علاوه د چا په برخه شوے نه دے. اوس که مونږ په خپلو روانو حالاتو نظر واچوو چې مونږ نن په کوم ډګر ولاړ یو مونږ سره څه ونه شو او لا نور به هم کېږي ولې چې مونږ لا تراوسه خپل ځانونه ونه پېژندل چا چې هم را ته ډول ډنګول شروع کړو دهغه مخ کښې ګډېږو.

نن د پنجاب خلق د پنجابي لیډر سره ولاړ دي. سندهیان د سندهي سره. مهاجر د مهاجر مشر سره او بلوچ د خپل لیډر سره. هغوي په عزت کښې دي اومونږ........

مونږ د سر مشران وبائیلل. اے پښتنو رونړو راځئ چې خپل ګرېوان کښې اوګورو. د دنیا د قومونو سره سیالۍ وکړو خو د دې لپاره به د اتفاق ضرورت وي. هغه د خوشحال بابا شعر دے:

که توفیق د اتفاق پښتانه مومي
زوړ خوشحال به دوباره شي په دا ځوان